# دښځو او انجونو پر وړاندې دتاوتريخوالي جرمونو کې دعدالت په لټه




په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (يوناما)

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کميشنري



دسمبر ۲۰۲۰

# د راپور لنډیز

د افغانستان د ۲۰۰۹ کال د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون د ښځو او نجونو د قانوني ساتنو د پیاوړتیا په هڅو کې د یوه مهم ګام په څېر وستایل شو. د ۲۰۱۸ کال له سپتمبر راهیسې د ۲۰۲۰ کال تر فبروري پورې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا ترسره شوې څارنه په ډاګه کوي چې که څه هم د ښځو او نجونو پرضد د تاوتریخوالي په وړاندې چې د نوموړي قانون له خوا جرم ګڼل شوی، د عدلي سکتور غبرګون د ښه کیدو په حال کې دي، خو دغه سیستم له ګڼو اړخونو د ښځو او نجونو په ساتنه کې پاتې راغلی.

د ۱۸ میاشتو مودې په اوږدو کې، یوناما د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو ۳۰۳ راپورونه مستند کړي. د دغې مستندونې موخه د راپور شویو جرمونو د قضایي اجراآتو څارل و څو معلومه شي چې ښځو او نجونو ته د عدلي سیستم له خوا د خسارې کوم جبران برابر شوی، په تیره بیا د دریو راټلونکو دولتي ادارو له خوا کومو ته چې د دغه ډول جرمونو په تړاو عدالت ته د ښځو د لاس رسي د ډاډمنولو دنده سپارل شوې: د ښځو د چارو ریاستونه، د لوي څارنوالۍ د تعقیب څانګې څانګې (د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون څارنوالان)، د افغان ملي پولیسو د کورنیو شخړو د حل و فصل څانګې (د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون له ادارو سره یو ځای). یوناما همدارنګه دغو ادارو ته د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د راپور شویو جرمونو حجم څارلی څو په پراخه کچه معلومه کړي چې د څه ډول جرمونو په اړه راپور ورکړل شوي او د هغوي په اړه څه ډول اقدامات ترسره شوي. د معلوماتو پر راغونډولو د مشخصو محدودیتونو له امله، دا ادعا نه ده شوې چې دغه راپور په بشپړ ډول هیواد کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي جرمونو ته د عدلي سکتور له خوا د رسیدګۍ په اړه هر اړخیز معلومات برابروي.

د یوناما له خوا د ۳۰۳ مستند شویو قضیو له جملې څخه، یوازې نیمه یې (۴۹ سلنه) هغه یې بشپړ قضایي دوران طی کړی او په اړه یې د ابتدایي محکمې له خوا پریکړه شوې.[1] د مستند شویو قضیو د پام وړ شا و خوا ۱۷ سلنه هغه یې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د ادارو له خوا له دې امله نه دي تعقیب شوې، چې یا خو د پېښې قرباني شکایت نه دی درج کړی او یا هم د وخت په تیریدو سره شکایت بیرته اخیستل شوی.

> که څه هم د عدلي سکتور له خوا د نوموړي قانون له مخې جرم ګڼل شوي تاوتریخوالی ته ځواب ویل د ښه کیدو په حالت کې دي، خو دغه سیستم د ښځو او نجونو یو شمیر قضیو ته په رسیدګۍ کې پاتې راغلی.

د نوموړي قانون له مخې دغه کار تر ډیره جواز لري ځرنګه چې په دې اړه داسې تصریح کوي چې له ۲۲جرمونو څخه ۱۷ هغه یې باید د قرباني یا د هغې د مدافع وکیل له خوا د درج شوي شکایت پر بنسټ تعقیب شي، او دغه تعقیب هغه مهال په کلي ډول متوقف کېږي کله چې قرباني خپل شکایت بیرته اخلي. خو بیا هم، دغه کار پر انفرادي ښځو دغه درُوند مسؤولیت ږدي، څو د دې پرځای چې عدلي سیستم د هغوي په استازیتوب کار وکړي، هغوي باید هڅه وکړي سیستم په دې قانع کړي چې د دوي لپاره کار وکړي. د قرباني د نشتون له امله په بشپړ ډول د یوه جرم په څیړلو او عدلي تعقیب کې پاتې راتلل په ځانګړي ډول د کم عمره ماشومانو د واده په قضیو کې د پام وړ دی، ځکه د دې احتمال شته چې قربانیان ښایي په خپلواک ډول د دې وړتیا و نه لري چې له عدلي او قضایي سیستم څخه د رسیدګۍ په لټه کې شي.

د ۳۰۳ قضیو له جملې څخه، ۳۱ سلنه هغه یې د مختلفو نورو لاملونو لکه په دریو میاشتو[2] کې د شکمن تورن شخص په نیولو کې پاتې راتلل، یا د منځګړیتوب په څیر د غیر رسمي میکانیزمونو له لارې تر حل وروسته د قضیې د تړل کیدلو له امله د

[1] په افغانستان کې قضایي قوه له لومړي محکمې، استیناف محکمې (همدارنګه د دويم محکمې په نامه هم پیژندل کیږي) او سترې محکمې څخه تشکیل شوې. د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون، ۱۱۶ ماده.

[2] د منابعو د محدودیت له امله، یوناما هغه قضیې لا زیاتې نه دي تعقیب کړې چیرې چې تر دغې مودې وروسته نیونې نه دي ترسره شوي.

عدلي او قضايي سیستم له لارې نه دي حل شوي. له بلې خوا د مستند شویو قضیو د یوې فرعي ټولګې مفصلې ارزونې په ډاګه کړې چې یادې قضیې تر ډیره د هغو زماني مودو په دننه کې پروسس او رسیدګي شوي چې د ۲۰۱۴ کال د جزايي اجراآتو په قانون کې یې تصریح شوې او په عام ډول په څېړنو، عدلي تعقیب یا قضاوت کولو کې له بې ځایه ځنډ سره نه دي مخ شوي.

یوناما همدارنګه د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي جرمونو ته په رسیدګي کې څرګندې ناکامۍ په ګوته کړې. د مثال په ډول، یوناما موندلې چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون ادارو " له کور څخه تېښته" یا د زنا هڅه[3] د "اخلاقي جرمونو" په څیر ثبت کړي، په داسې حال کې چې لومړی هغه یې جرم نه ګڼل کیږي. یوناما دغه راز ۴۰ داسې قضیې مستندې کړې په کومو کې چې ښځې د تاوتریخوالي له امله ځان وژنې او ځان سوزولو ته اړ کړای شوي. په زیاترو دغو قضیو کې ښځو له خپلو کورنیو یا ټولنو څخه د مرستې د ترلاسه کولو هڅه کړې، خو د هغې په ترلاسه کولو کې پاتې راغلي. دا حقیقت چې ښځې احساس کوي چې له تاوتریخوالي څخه د تیښتې لپاره پر دغه ډول سختو کړنو د لاس پورې کولو پرته بله لار نه لري، پر عدلي سیستم څرګنده بې باوري او له تاوتریخوالي څخه د خلاصون لپاره د ملاتړ د نه شتون د ښځو انګیرل شوې یا واقعي تجربه په ډاګه کوي.

په داسې حال کې چې د یوناما له خوا راغونډ شوي معلومات په ډاګه کوي چې د تیرې څارې راهیسې د ښځو او نجونو د وژنو د قضیو لپاره د مرتکبینو د محکومیت کچې زیاتې شوې،[4] او د "ناموسي وژنو"[5] په نامه قضیې لا اوس هم دوام لري او په دې برخه کې د مرتکبینو محکومیت کچه ډیره ټیټه ده. دغه ډول قضیې هغه دوامدار باور په ډاګه کوي چې د کلتور، عنعناتو یا دیني معیارونو پر بنسټ د "کورنۍ د عزت" د بیا اعاده کولو لپاره ښځې ښايي له سزا سره مخ شي.

همدارنګه د جنسي تیري د قضیو څیړنه او عدلي تعقیب د دغه جرم په وړاندې د عدلي چارواکو د تګلارې په اړه جدي اندیښنې را ولاړوي. د یوناما له خوا راغونډ شوي معلومات په ډاګه کوي چې د جنسي تاوتریخوالي د شواهدو  په برابرولو په ناندول ډول پر طبي ازموینې اتکا کیږي او دا چې له ښځو ښايي د دې غوښتنه وشي چې د هغوي د بشپړ رضایت پرته د دغو څیړنو غاړه ږدي. په ورته ډول دا هم د اندیښنې وړ ده چې د جنسي تیري یو شمیر راپور شوې قضیې د عدلي چارواکو له خوا له ازدواج بهر او د ښځې له رضایت سره د جنسي اړیکو درلودلو (زنا) په څیر ارزول شوي کوم چې د جزا د قانون له مخې جرم ګڼل کیږي، کوم چې له شک پرته د ښځو پر اراده څو د جنسي تیري په اړه راپور ورکړي، ډاروونکې اغیز ښیندي.

په افغانستان کې د کوویډ-۱۹ لومړۍ پېښې د ۲۰۲۰ کال په فبروري کې په ګوته شوې. له هغه وخت راهیسې د یوناما له خوا ترسره شوې روانه څارنه په ډاګه کوي چې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي قضیې زیاتې شوې، څرنګه چې هغوي د قضیو په راپور کولو او خوندیتوب ته په لاس رسي کې له ستونزو سره مخ دي. په ځانګړي ډول په دې زمینه کې، دا خورا مهمه ده چې د افغانستان اسلامي جمهوریت له تاوتریخوالي څخه د ښځو او نجونو د ژغورلو لپاره خپلو هڅو ته لومړیتوب ورکړي، عدالت ته د هغوي لاس رسی ډاډمن کړي او د دغو کړنو مرتکبین مجازات کړي. پرمختګ خورا سوکه خو واقعي و. دا خورا مهم ده چې په ګړندیتوب ادامه پیدا کړي.

---

[3] زنا یوه عربي اصطلاح ده چې د اسلامي شریعت له مخې د زوجیت له اړیکو څخه بهر د زنا عمل (د جنسي عمل د ترسره کولو) د تحریم لپاره کارول کیږي. زنا د اسلامي شریعت له مخې په حدودو کې شامل یو جرم ګڼل کیږي چې مجازات یې واجب او حتمي دي.

[4] د ۲۰۱۰ کال راهیسې، یوناما په ټول افغانستان کې د حکومت د هغو هڅو د څارلو له لارې چې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي پیښو ته رسیدګي کوي، په ځانګړي ډول د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د تطبیق له لارې، دغه پیښې مستندوي. په ځانګړي ډول د یوناما/د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر، *د افغان میرمنو له نظره عدالت: د منځګړیتوب او محکمې د قضاوت له لارې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي حل شوې قضیې*، ۲۰۱۵؛ د یوناما/د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر، *بې عدالتي او معافیت: د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د جنايي جرمونو په اړه منځګړیتوب*، مۍ ۲۰۱۸ راپورونه وګورئ، چې پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/women%27s-rights-reports.

[5] د دغه راپور د هدف لپاره، یوناما هغه وژنې د "ناموسي وژنو" په څیر ډلبندي کړې د کومو په اړه چې معلومات په ډاګه کوي چې شکمن مرتکب خپله میرمن او خپله ښځینه خپلوانه له خپل ناموس/عزت څخه د دفاع په موخه وژلې وي، د دغې ډول وژنې خصوصیات د افغانستان د ۱۹۷۶ کال د جزا په قانون کې وړاندې شوي وي. د ۲۰۱۸ کال د جزا قانون کې نور "ناموس/عزت" د وژنې لپاره د یوې مشروع دفاع په څیر نه دی شامل.

## د ښځو او نجونو پر وړاندې د راپور شویو جرمونو حل و فصل




## سپارښتنې

*په حقوقي چوکاټ کې تعدیلات*

- د قانون پر اساس دچارواکو  دصلاحیتونو د پراخولو لپاره د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون تعدیلول، ترڅو د قرباني له خوا پر لومړي شکایت د اتکا کولو پر ځای او پرته له دې چې د قرباني له خوا د شکایت بیرته اخیستل په پام کې ونیسي، په قانون کې ټول تصریح شوي جرمونه او سرغړونې وڅیړي او تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي.
- د تدابیرو غښتلي کول، څو ډاډمن شي چې ښځې او نجونې له کور څخه د "تېښتې" لپاره په خپل سري ډول نه دي توقیف شوي.
- د جزا د کود د ۶۴۰ (۲) مادې تعدیلول، څو ډاډمن شي چې له کومې استثنا پرته د "بکارت ازموینې" جرم وګڼل شي؛ ډاډمن شي چې د دغو "ازموینو" پایلې په جزايي اجراآتو کې د شواهدو په څیر نه کارول کېږي، لکه څرنګه چې پې په اړه د ښځو په وړاندې د هرډول توپیر د منع د کمېټې (سیدا) له خوا سپارښتنه شوې؛ هغه کسان تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي څوک چې د جزا له کود څخه په سرغړونې دغه "ازموینې" ترسره کوي.

*د ښځو او نجونو په وړاندې تاوتریخوالي د نهادونو له خوا دغبرګون غښتلي کول*

- د افغان ملي پولیسو د کورنیو شخړو د حل و فصل څانګې لپاره د منابعو زیاتول، په ځانګړي ډول د ښځینه پولیس افسرو د شمیر د زیاتولو له لارې، لکه څرنګه چې یې په اړه د ښځو په وړاندې د هرډول تړوپېر د منع د کمیټې(سیدا) له خوا سپارښتنه شوې؛ د خوندي او محرمانه ځایونو رامنځته کول څو ډاډمن شي چې د تاوتریخوالي قربانیان کولي شي په خوندیتوب او درناوي سره د جرمونو په اړه راپور ورکړی؛ د دې یقیني کول چې د کورنیو شخړو د حل و فصل څانګې جلا کار ځایونه او دفتري تجهیزات ولري.
- د افغانستان د *جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالی د چلند د پروتوکول* په اړه د افغان ملي پولیسو او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د څارنوالانو روزل.
- له دولتي بودجې څخه د تمویل د برابرولو په ګډون د ښځو د سرپناه ځایونو د ملاتړ او پوښښ پراخول، څو ډاډمن شي چې د تاوتریخوالي قربانیان کولی شي له تاوتریخوالي سره تر مخ کیدو وروسته سرپناه او خوندیتوب ته لاس رسی لري.
- د مدافع وکیلانو د سلا مشورو او د حقوقي مرستو د شبکو د ملاتړ پراخول څو ډاډمن شي چې د تاوتریخوالي قربانیان – په ځانګړي ډول په لیرې پرتو کلیوالو سیمو کې – د خپلو حقونو په اړه وړیا معلومات او د خسارې د جبران په ګډون د تاوتریخوالي د جرمونو لپاره عدالت ته په لاس رسي کې مرستې تر لاسه کولی شي.
- د قضیو د مدیریت او د ډل بندۍ لپاره د یو ډول شرایطو د یوه فعال سیستم د رامنځته کولو په ګډون، د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع د قانون د تطبیق په اړه د ادارو ترمنځ د همکارۍ غښتلي کول. په شمول د قضایاو مدیریت سیستم او یادو جرمونو له پاره ټاکلي معیارونو رامنځته کول، لکه څنګه چې د ښځو پرووړاندې د هرډول تړوپېر دمنع د کمیټې (سیدا)له خوا وداندیز شوي ، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دیادو قضایاو راپور ورکول د جنسیت ، عمر ، توکمیزې ډلې ، معلولیت او د قرباني او مرتکب ترمنځ اړیکې سره دتوپیر په بنسټ وړاندی شي.